ډاکټر صلاح الدين سعيدی – سعيد افغانی ٢٠٠٩/٠٥/١٦م

# که په ريښتيا هم مثبت بدلون غواړی نو تفاهم وکړی!

( د افغانستان د ١٣٨٨ د ولسمشری د ټولټاکنو په هکله يو څو ټکی )

زمونږ هيواد افغانستان کی روان سياسی حالات په داسی چټکی په حرکت کې دی چه کله کله يی د تعقيب څخه وروسته پاتی کيږو.
دا يو څرګند حقيقت دی چه په سياست کې د تل لپاره ګټی، منافع او مصالح مطرح دی. داچه په کوم پړاو کې څوک د چاسره ګډی ګټی او اهداف لری او ددی مشترکو ګټو او هدافو معيار څه دی؟ کوم سرحدونه او سره خطونه شته چه د هغه نه تيريدل جواز نه لری او تر کومه ګذشت کولای شو؟ دا هغه خبری، نکات او هغه ټکی دی چه بايد او بايد په نظر کې ونيول شی.
د مقدسو او پاکو اهدافو او کړنلارو د پلی کولو او تحقق لپاره د سياسی قدرت د لاس ته راوړلو لپاره جايزی هڅی او هاند عبادت دی. انسانی ټولنه په يوويشتمه پيړی کې همدغه امکانات لری. مونږ مجبور يو چه د همدی موجوده امکاناتو څخه په جايزی ګټه اخيستو د خپلو سياسی اهدافو د پلی کولو، تحقق لپاره هلی ځلی و کړو.
که په دی باور ياست چه نوی پاليسی په زاړه او اوسنی حاکم قيادت نشی عملی کيدای. او که په ريښتيا هم مثبت بدلون غواړی نو ستاسی د بری او موفقيت يواځنی راز تفاهم او يووالی دی . بله لاره نه شته.

## د مثبت بدلون ضرورت :

د افغانستان خلکو ډيری ناخوالی زغملی او ليدلی. همدا اوس هم د جګړی او ورور وژنی په لمبو کی سوځی. داسی ښکاری او وروستی حوادث دا په ډاګه کوی چه هغوی چه تر پرونه زمونږ په وينو خپل وطن آباد کړ دادی اوس خپله هم په همدی اور کې سوځی. د چا په سوځيدو خوشحاله نه يو خو داچه زمونږ له سره لاس واخلی.
دا په ډاګه او ښکاره خبرده او له بده مرغه او په تأسف بايد ووايم هر کله چی د افغانستان خلکو موقع او فرصت تر لاسه کړی چه د يوی نورمال ملت په توګه خپل سرنوشت په خپل لاس کې و نيسی او آرامه او هوسا ټولنه ولری نو بيا د پردو اجنټانو، داړمارانو او فريب کارانو په قومی، قبيلوی او فتنه اچونو زور کړی، د شخصی او کورنی او جيبی ګټو به خاطر يی د خلکو آرمانونه او هلی ځلی د خاورو سره برابری کړی او د ملت هستی يی تالا کړی. بار يی د اوښ سره خوړلی( جار شم د رهبر!؟ د کولمو خيټه يی د ښکلولو ده – چا مو يو څه وخوړل او ده واړه کاروان وخوړ).

په ډاګه ويلی شم چه په افغانستان کې اقلا په دی اتو کلو کې د غلط کادری سياست، غير شفاف اقتصادی سياست، ضعيف او معامله ګر سياست، سياسی بی کفايتی، د قانون نه تطبيق، حاکم مافيايی روابط او داسی نورو عواملو د دی زړه ماتوونکی وضعی سببونه او عوامل دی. د خلکو د زړونو نه وينی څاڅی خو دوی چړچی کوی. مغرضو انسانان د پردو نوکران ددی وطن د تباهی او تجزيی پلانونه لری او ضعيف حاکميت ددی لپاره چه د خپل قدرت بی درد سر دفاع، تضمين او خوندی کړی هر شيطان او منحرف او خاين سره جوړ راغلی. قومی بی عدالتيو ته د بی ځايه او ناحقه ګذشت په نتيجه کی نور هم لمن وهل شوی. مونږ په دی باور لرو چه ددی ښو فرصتونو څخه ښه استفاده و نشوه. په وطن او د هغو په خلکو چه هر څه راځی خو ددوی چړچی او سياسی قدرت بايد خوندی پاتی شی!؟ د انسان په نوم د شرم ټوټی دی.
چالاکو، فاسدو ، قوم پرسته او فتنه جو افرادو، ډلو ټپلو وکولای شول د افغانستان د خلکو په سر په دی ورستيو دری - څلورو لسيزو او په خاص ډول په تيرو اتو کالوکې ناروا لوبی و کړی. د ملت د هوساينی په ځای يی د خپل جيب ، شخصی ، فاميلی او بيا کله نا کله د خلکو د غولولو لپاره په ظاهر کې د قومی هوساينی لافی وهلی.

دادی د افغانستان خلک بيا هم قربانی ورکوی کله روسانو ووژل، کله ايرانی سازمانونو د دريم منزل نه رد مرز کړل، او کله هم پاکستانی جنرالانو پری خپلی لوبی وکړی او کله هم د دين په نامه په چړو حلال شو ( د اسلام په تمه تمه د کافرو کانی و شی – بل محشر ته حاجت نه شته – محشرونو کی مو شپی دی). په دی تيرو اتو کلو کی د بهرنيو ځواکونو نانندر او جنايات ( داچه رسمی پاليسی وه که يه دا مهمه نه ده – په عمل کې) او د حاکميت بی


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئوليت املايی و انشايی نوشته ها به دوش خود نويسنده ميباشد، خواهشمنديم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بداريد.

کفایتی او سو استفادی او ناروا ګټی اخیستنی ددی حکم کوی چه باید هوښیار شو. سیاسی پوخوالی ولرو. اولویتونو و پیژنو او تعیین کړو. خپلو ننښیو او د سبا اهدافو د تحقق لپاره کار کلک او متین ګامونه واخلو.
زما په پوهه د پردو نه دومره ګله په کار نه ده. ګله د بخښنی او عفوی پیل دی. مونږ باید ځان را ټول کړو.
زما په پوهه په دښمن لټولو باید زیاد وخت تیر نه کړو. په کار ده چه دوست او رښتینی دوست ولټوو.
ددی نه زیاته مهمه خو داده چه خپله سمه لار غوره کړو او نورو ته د لاری او ښا (کوهی) او بیدارولو هڅی ولرو.
که په داسی یو حساسه مرحله کی بیا هم هوښیار، سیاسی درایت او پوخوالی و نه لرو او خپلو اوسنیو او ستراتیژیکی، اوږد مهاله ګټو ته جدی پام و نه کړو نو بیا به مو ستر ګناه کړی وی.
پر مونږ ده چه د ټولو د مخه له ځانه پوښتنه وکړو چه دا موجوده حالت او وضعه د تحمل وړ ده که یه؟ که ځواب منفی وی نو ددی موجوده حالت نه د وتلو لاری کومی دی؟

## ددی وضعی نه د وتلو او حل لاری؟

د حل لاری: مسلحانه قیام چه د لیا او غیر ضروری قربانیو موجب وګرځی؟ د سولی لار او مسالمت آمیز بدلون لار؟ دریمه لاره چه مقاومت باندی اعتراف کول او خپل ځای ورته ورکول، آما د سولی او مسالمت آمیز لار باندی تأکید کول. قهر آمیزه مقاومت چه د بی ګناه انسانانو په وژنه او خرابی منجرشی له سره رد دی. د بی ګناه انسانانو وژنه مرګ او ژوبله په هیچ وجه مبرر نشی لرلای. دا استدلال نشم منلی چه دا ضروری قربانی. که چیری وژل شوی کسان ددوی زامن او بچیان وی نو بیا به یی مبرر ورته نه لټوه. زه تأسف کوم چه زمونږ حتی د افغانستان رسمی مراجع او افغانی دیپلوماتان چه په دی هکله هڅی کوی په هر قیمت ځواب پیدا کړی او دا مرګ او ژوبلو ته مبرر ومومی. له سره د افغانی ټولنی او انسانی اصولو نه خلاف هڅه او له سره ددی وطن د خلکو په درد خبر نه دی.
زه په دی باور یم چه په زور او زور او مسلحانه او تنها مسلحانه لاره یواځنی غوره کول - درسته لار نه ده. د خدای لپاره په دی ملت ورحمیږی. په کنډو رنډو ، یتمیانو او یسیران او په خلق الله ورحمیږی او داسی لاری غوره کړی چه دا ملت نور و نه زوریږی او و نه کړیږی نو په هغه کی به دنیوی او آخروی خلاصون وی.

په دی باندی باور لرو چه اوس نو افغانستان د هغه اتو کالومخکی حالت کی نه دی. د افغانستان خلک بیدار دی او خپل دوست او دښمن ښه پیژنی. سیاسی تمیز لری.
که پر دی مو توافق و کړ چه ددی وضعی نه باید ځان خلاص کړو او د وطن ، د خلکو او افغانی مسلمانی ټولنی اولویتونه په نظر کی و نیسو نو بیا په دی سلسله د موجوده امکاناتو نه د ملت په ګټه استفاده کول هم ضروری او حتمی خبر ده. د مأمور او دښمن نه توقع او تمه نه شته او هغه زما مخاطب نه دی. زما مخاطب معذورین دی چه په خپل لاس نا آګاهانه خپل خلک وژنی او وطن خرابوی. زما مخاطب د افغانستان خلک او د جهان خیر خواهان دی.
زما رسالت ځان پوهول او نورو ته د حق او ښه لار ښول دی. ( ...عملوا صالحات و تواصو بالحق...).

د تأسف سره باید ووایم چه په ډیرو مواردو کی ښه قوانین نه لرو. زمونږ موجوده قوانین په آګاهانه او غیر آګاهانه توګه د تناقضاتو سره تصویب شوی. همدا نافذ او غیر مکمل قوانین هم چه لرو - نه عملی کیږی. د محترم حامد کرزی د ریاست جمهوری دوره د اساسی قانون د نص په صراحت په اول د جوزا ختمه ده، خو ستری محکمی هغه په مختلفو غیر قانونی تاویلونو اوږده و بلله.
زمونږ په قوانینو کی د دولت د دری ګونو قواو یعنی حکومت، پارلمان، او اجرایه قوی تر منځ متناسب توازن چه د دموکراسی د تامین له پاره مرسته کوی - مراعات شوی نه دی. په ډیرو مواردو کی قانون صراحت نه لری. د رئیس جمهور د کاندید لپاره په ټولټاکنو کی په ډیرو مواردو کی قواعد روښانه ندی.
د افغانستان لپاره د رئیس جمهور انتخاب زما په پوهه د پارلمان له خوا بهتره خبر ده، زما په پوهه د صدراعظم موجودیت د رئیس جمهور په څنګ کی د استقرار سبب کیږی. دا او داسی نور قوانین چه تغییر ته ضرورت لری. اما راځی چه په موجود حالت کی متمرکز شو.
زما په پوهه حتمی نه ده چه په ټولټاکنو کی د کاندید په توګه او یو مقام ته مطرح اوسو. د وطن مصالح او ګټی مهمی دی چه په تمامو حالاتو کی باید په نظر کی و نیول شی.
که په سیاسی ژوند کی فعاله ونډه وانخلو او یا په ټولټاکنو کی بدون د نورو هڅو د ټولټاکنو او انتخاباتو له سره په مقاطعی باندی تاکید کوو نو په عمل کی د هغو افرادو د ټاکنی لپاره زمینی برابرو چه د ملت او صلحی په درد نه خوری. په عمل کی د سیستم نړولو ، ډاکوانو او داړه مارانو، کاذبو شخصیتونو لپاره کار دی.
له همدی کبله زه د مقاطعی په ځای د فعاله ونډه اخیستو سپارښت کوم. د وطن د خدمتګارانو په ګوته کول او د وطن د دښمنانو د افشاء کولو تأکید کوم.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

زه منم چه د افغانستان دا ټولټاکنې په نور مال او ایدیال حالت کې نه کیږی. یو خوا راته ټوپک سالار د ټوپک سره ناست دی او بلی خوا اجنبی وطن کی د خپلو قواو سره دی.
زه منم چه په د افغانستان د جمهوری ریاست په دی ټولټاکنو که د جمهوری ریاست کاندیدان د وقت د مضیقی سره مواجه کړای شول،
زه منم چه دښمنانو شرایط داسی واوړی چه د جمهوری ریاست ته د تګ سره باید د یو څو کاذبو شخصیتو سره یا لاس یو کوی او د زهرو جام په نوش جان کوی او معامله به وی او هم له سره چانس دی کم دی.
زه منم چه د ریاست جمهوری کاندیدانو ته تخنیکی او زمانی مشکلات جوړ کړای شول،
زه منم او دا یو حقیقت دی چه دولتی امکانات د حاکم کاندید په ګټه استعمالیږی،
زه منم چه حاکم کاندید اوه کاله وخت لرو،
زه منم چه حاکم کاندید د نړیوال مرستومیلیونهاو ډالر و مرستی به مستقیم او یا هم غیر مستقیم توګه په واک کې لری،
زه منم چه حاکم کاندید د اقتصادی امکاناتو په لرلو کادری امکانات هم لری،
زه منم چه حاکم مافیایی جالونه په دی ټولټاکنو کی ستره اغیزه لری او سوء استفادی روانی دی،
زه منم چه که ددی حاکم مافیایی حاکمیت سره جوړ راغلی او د استادی شرینی او نقل دی ورته کیښودل نو بیا ټاپی در باندی نه وهی او د هاګ په محاکمو دی نه ډاروی، بلکی ددوی تابع او لاس پوڅی یی. او که نه بیا نو د عدالت او دموکراسی په ډولونو او ساز دی ګډول غواړی.
زه منم هغه بهرنیو کمپنیو چه په افغانستان کی ستر تجارتی قرار دادونه تر لاسه کړی باید خپل یو مقدار عایدات د خپلو
تجارتو د تضمین لپاره مصرف کړی،
زه منم چه حاکم کاندید ته په عمل کی ددی تمامو امکاناتو برابرول عملا د بهرنیو او امریکی حکومت بی طرفی موضع د
سوال لاندی راوړی،
زه منم چه د ټولټاکنو مستقل کمیسیون په عمل کې مستقل نه دی، د حاکم کاندید لپاره د تمام امکاناتو نه ګټه اخلی او استفاده کوی،
زه منم چه دا په اصطلاح د ټولټاکنو مستقل کمیسیون وکولای شول ددی انتخابات د یو جدی کاندید محترم علی احمد جلالی د کاندیدولو مخه په ډیر هوښیاری ونیسی،
زه منم چه د بهرنیو همسایه استخباراتی ادارو په اوسنی حاکم، ضغیف او معامله ګر منجمنت کی خپلی ګټی وینی،
زه منم چه په افغانستان کې مافیایی قوتونه په بـقا ماکان علی ما کان تاکید کوی،
زه منم چه په ناروا او ناجایزو توافقاتومفسد، قوم پرسته، مافیایی ډلو ټپلو، او خاینو عناصرو هلی ځلی روانی دی. او حتی همدا اوسی په
هر قیمت د افغانستان په سرنوشت ناروا معاملو ته آماده دی او خاینانه معاملی کوی،
او زه منم چه د پــــردی هغه خوا لوبی او برنامی مونږ ته معلومی نه دی - اما تصور یی کولای شو،

اما زه په دی هم پوهیږم چه حاکمیت په اتو کالو کې خپل هویت داسی بربنـــد کړای چه خلکو ته نور څه د ویلو او وعدی نه لری.
اما زه په دی هم پوهیږم چه د حاکمیت د کاندید مطرح افراد او اشخاص کومه مشخصه واحده کاری کړنلاری نه لری – صرف
معامله او بده معامله ده چه په هرقیمت کیږی باید قدرت خوندی وسائل شی.

بعضی پورتنی حقایق داسی روښانه دی چه سند راوړو ته ضرورت نه شته. یوسلسله نور حقایقو ته مستند مثال راوړل بحث اوږدوی، نو ځکه مجبور یم بحث لنډی کړم او صرف یو موضوع باندی لږ تفصیل وکړم:

## د ټولټاکنو مستقل کمیسیون ولی مستقل نه دی؟

۱/ ددی کمیسون رئیس او اعضاء د برحاله رئیس جمهوری له خوا چه په خپله هم د افغانستان د۱۳۸۸ کال د ریاست جمهوری یو کاندید دی ګمارل شوی که څه هم د پارلمان شکلی تائید لری.
۲/ دغه کمیسیون عملا زمینه دی ته برابره کړه چه نور کاندیدان په یو زمانی مضیقه کی واچوی.
۳/ د محترم پروفیسور علی احمد جلالی د افغانستان د جمهوری ریاست د کاندید نه سند غوښتنه چه ثابت کړی چه دی د امریکی تابعیت نه لری د پام وړ ده.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د تابعیت مسأله یوه حقوقی او سیاسی خبر ده. قانون صراحت لری. خو په دی باندی باید معترف اوسو چه د افغانستان خلک په تیرو دری څلورو لسیزو کې مهاجرت ته مجبور شول. به بهر کی مجبورا د هغه هیوادو د قوانینو او سفر اسناد تر لاسه کړی. دا مسأله یواځی زمونږ په وطن کی مطرح نه وه او نه ده بلکی د نړی په نورو هیوادو کې هم مطرح وه او ده. په نړی کی کله کله ددی مشکل د حل لپاره د کاندید د اعلامی په صادرولو او یا هم د بهرنی تابعیت په تعلیق اچولو باندی اکتفاشوی. زه داسی موارد هم پیژنم چه د افغانستان لوړ پوړی حکومتی کار کوونکی او حتی د وخت جمهور رئیس په بهرنیو پاسپورتونو سفرونه کړی. د سترګو حال لیدلی حالت در ته ویلی شم چه یو افغانی جمهور رئیس په هندی پاسپورت اروپا ته سفر کړی. زه په دی کې هیڅ شک نه لرم چه بهرنی پاسپورتونه د افغانستان ۹۹ به سلو کې تمام هغه وګړی لری چه په بهر کې یی لږ تر لږه د (۵ – ۱۰) کالو پوری ژوند کړای. دا یو واقعیت دی چه په اروپا او جهان کې دافغانستان ډیر اتباع بهرنی پاسپورتونه لری. او ..... که بحث راټول کړو نو داچه یو تابعیت ښه دی او که دوه تابعیته او په کوم هیواد کی کوم ډول لاره غوره شوی نو بحث مو اوږدیږی. دا چه کوم یی زمونږ دوطن په ګټه او یا ضرورت دی او کوم دلایل دی ؟ دا یو قانونی او حقوقی اوږد بحث دی. خو ضرورت دی چه په نافذ قانون نوی غور وشی.

اما که خبر لنډه کړم نو: باید ووایم چه له دی کبله چه د افغانستان د ټولټاکنو کاندیدان د زمانی له لحاظه وخت تنګی سره مواجه کړای شول نو د تخنیکی له پلوه له دوی څخه د داسی سند غوښتل چه اداری پروسی ته ضرورت لری قصدی او عمدی مشکل ایجادونه وه. که د ټولټاکنو مستقل رئیس محترم لودین وایی ( ... که این مشکل ما نیست ما قانون را تطبیق مکنیم و ....) نوبیا همدا قانون په یوځای کې چه زما د بادار په ګټه وه تطبیقوم او په بل ځای کې چه زما بادار ته خطر دی بیا هغه (مشکل ما نیست... ) بلل – غلطه خبر ده. داچه د ټولټاکنو مستقل!؟ کمیسیون کاندید ددی لپاره چه بهرنی تابعیت نه لری کوم بهرنی سفارت ته لیږی غیر قانونی مطالبه ده. که چیری یو کاندید د امریکی سفارت ته لیږل کیږی چه سند راوړی نو بیا د نړی د ټولو هیوادو سفارتونو ته نه لیږل کیږی چه سند راوړی تر څو یی تابعیت لری که یه ؟ سوال داسی دی چه آیا د یو هیواد سفارت دا وظیفه لری چه چا ته دی داسی د تابعیت د فراغت سند ورکړی او که دا د هغه هیواد د نورو مرکزی ادارو کاردی؟ ځواب کاملا ښکاره دی. د تابعیت نه ویستل د یو هیواد د مرکز ادارو کار دی او په سفارتونو کې دا موضع نه حلیږی او سفارت ته هم په کار نه ده چه داسی سند ورکړی.

که مثلا زه راغلی یم. د ریاست جمهوری کاندید یم. دا می افغانی پاسپورت دی او افغان یم تاسی ( د ټولټاکنو کمیسیون) ما ولی د امریکی سفارت ته لیږی چه تصدیق راوړم؟ دا خبره باید د ټولټاکنو مستقل!؟ کمیسیون سره له سره نه وای منل شوی.

که په افغانستان کې د حاکمیت د استدلال کچه داسی وی چه ده. که د شخصی فتاوی په اصولو ( بقا ما کان علی ما کان او یا هم ذوی الیدی ) په اساس د اساسی قانون د مادی د صراحت خلاف استدلال کیږی - نو زه بیا هم حق لرم چه په انالوګی او قیاسی ډول لاندی استدلال وکړم:

- په حقوقی لحاظ اصل پاکی ده تر څو ناپاکی ثابته نه شی.
- په حقوقی لحاظ اصل بی ګناهی ده، انسان بی ګناه دی تر څو د هغه ګناه ثابته نه کړای شی.
- په حقوقی لحاظ مشکوک، متهم وظیفه نه لری خپله بی ګناهی ثابته کړی دا د پولیس او څارنوال کار دی چه د خپلی ادعا لپاره سند راوړی.
- په حقوق لحاظ کاندید راغی او شرایط یی پوره کړل په کوم اساس او کوم سند د ټولټاکنو مستقل کمیسیون کاندید کوم سفارت ته لیږی چه سند راوړی چه تاسی د هغه او یا دغه هیواد تابعیت نه لری او یا لری؟ د افغانستان تبعه یم او وایم چه قلبا او د زړه ددی هیواد او افغانستان یم دا می پاسپورت او د هویت کارت. بل هیچا ته د خدمت قصد نه لرم بلکی دی وطن افغانستان ته د خدمت هوډ لرم . او.........

۴/ د قانون څخه تخلفات روان دی او د انتخاباتو د قوانینو نه په صراحت تخلف کیږی او د انتخاباتو د کمیسیون په دی هکله خپل هیڅ مسؤولیت چه ګویا دا د بل چا کار دی عمل نه کوی. د دولتی مقامونو نه د یو کاندید په ګټه انکار نه کیدونکی تخلف کیږی او څوک یی پوښتنه نه کوی. یو سند: محترم اشرف غنی د جمهوری ریاست د ټولټاکنو کاندید وایی چه د افغانستان د کورنیو چارو برحال وزیر او دافغانستان د محلی ارګانو برحال عمومی رئیس د ده سره د محترم حامد کرزی په ګټه خبری اتری وکړی. عجب بی قانونی او عجب مستقل والی ؟

دا او داسی نور منل شوی حقوقی قواعد، اصول او قوانین چه په قیاسی او انالوګی ډول مونږ خپل نظر پری متکی کولای شو.

په دوه برخو کې - ادامه لری !



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de